


# غزل

ارمانونه ارمانونه، زما ټوله شاعري ده

ستا نادودې ستا نازونه، زما ټوله شاعري ده

زه چې وینې وینې وینم غریو نیولی په سلګو شم

له جګړې نه نفرتونه، زما ټوله شاعري ده

ته به څه په کې پیدا کړې بې له وینو بې له اوښکو

څیرې خیرې ګریوانونه، زما ټوله شاعري ده

زه همداسې په ژړه یم ته همداسې په خندا یې

د ژړا خندا لفظونه، زما ټوله شاعري ده

ته چې شړک زلفو له ورکړې زلزلې شي زلزلې شي

تا وژلي فریادونه، زما ټوله شاعري ده

چې دې خپل زړګي ته ګورم د داغونو ځای پرې نه شته

خلک وایي ټکورونه ، زما ټوله شاعري ده

شاعر: افضل ټکور

ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

***




# غزل

کورونه که مو بیل دي خو وطن مو سره یو دی

غمونه مو شریک دي او مدفن مو سره یو دی

که ژبې مو دي ببلې خو خبره مو يوه ده

دردونه زمونږ يو دي او دردمن مو سره يو دی

پردو که په خپلونو او قومونو يو ويشلي

خو وينه مو يوه ده او بدن مو سره يو دی

خندا زمونږ شريکه او ژړا زمونږ شريکه

دوستان مو سره يو دي او دښمن مو سره يو دی

پردي پردي پردي دي ما او تا بيلوی نه شي

بيلتون مو سره يو دی او ديدن مو سره يو دی

که زړونه مو د نورو پرهرونو دي داغلي

خو غم مو سره يو دی او غمجن مو سره يو دی

ټکور نه وايي دی چې يو خپل زخم ټکور کړي

زخمونه زمونږ ګډ دي او سخن مو سره يو دی

شاعر: افضل ټکور

ترتيب کوونکی: انجنيرعبدالقادرمسعود

***




# غزل

زما شعرونه يتيمان دي مور او پلار نه لري

له ښکلا ډک له مينې ډک دي په چا کار نه لري

حيران هغه ته يم چې زړه کې نفرتونه لري

دوه ورځې ژوند دی بې له مينې اعتبار نه لري

هغې نه مرګ خدا بړو چې سل ځله بهتره به وي

څوک چې په خپل وطن کې اوسي او اختيار نه لري

نيکبختي زه خو يې منم خو زړه مې کله مني

چې پښتنې پېغلې له مينې نه انکار نه لري

ما اورېدلي دي څو ځله د دې ښار په هکله

چې محتسب او قاضي دواړه دغه ښار نه لري

غوټۍ به څنګه شونډې پرانيزي په داسې وخت کې

چمن په وينو خړوب شوی او ماليار نه لري

ټکور به چا چاته په زړه باندې پټۍ لګوي

داسې څوک نه شته چې په زړه باندې پرهار نه لري

شاعر: افضل ټکور

ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

***




# غزل

لوړه ، بیلتون او ستا غم درېواړه

رامې شي کاله ته یو دم درېواړه

شپه ، د جانان زلفې او سپېره رقیب

یو وخت کې راورسي سم درېواړه

ښه به وي چې اور باندې یې وسېزم

توره او غیرت او قلم درېواړه

خدایه که مې زور وربانديې ورسید

وژنمه جګړه، توپ او بم دریواړه

شیخ ذاهد، ملا چې ریاکاره وي

مړه دې وي یو ځای په حرم دریواړه

وصل د یار، شونډې د یار خوله دیار

غواړمه همدا له صنم دریواړه

اوښکې او سلګۍ او بې وسي خدایه

کړې مې له وطن ترې تم دریواړه

زړه ټکور، غزل ټکور او شعر ټکور

اوسي په یو کور کې همدم دریواړه

شاعر: افضل ټکور

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود

***